**مطبوعاتي خبرپاڼه**

**<u>د ښځو نړیواله ورځ- ۲۰۱۴</u>**

**"د ښځو لپاره تساوي د ټولو لپاره پرمختک دی"**

**کابل، د مارچ ۲۰۱۴،۷ کال-** لکه څنګه چې ملګري ملتونه د ښځو د نړیوالې ورځې د لمانځلو لپاره چې د مارچ له ۸ نیټې سره سمون لري، چمتووالی نیسي، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو کورنۍ د خپلو هڅو په وړاندې په بیا ژمنې چې موخه یې د جنډر د تساوي ښه کول او د ښځو پیاوړتیا ده، دغه ورځ لمانځي.

د جنډر د تساوي او د ښځو د پیاوړتیا لپاره د ملګرو ملتونو د ادارې اجرائیوي مشرې آغلې فوم زیلي ملامبو-نګوکا ددې ورځې په مناسبت په خپل پیغام کې وویل "۲۱ پیړۍ د هرې ښځې او نجلۍ لپاره باید توپیر ولري، دوي باید پوه شي چې د یوې نجلۍ په حیث د هغوي زیږیدنه د یو سخت او بې برخمن حالت پیل نه دی."

"موږ باید په ګډه داړ حاصل کړو چې نوموړي د جنډر پر اساس له تاوتریخوالي څخه خوندي او امن وي، د زیږونې د حقونو په شمول له بشري حقونو څخه برخمنه وي او د حقونو درناوی یې وشي، او د پوهنې ، برابر فرصتونو، برخې اخیستنې او مشرتابه له لارې په هر ډګر کې په اقتصادي لحاظ غښتلې وي."، آغلی فوم زیلي ملامبو- نګوکا زیاته کړه.

د سږ کال شعار "د ښځو لپاره تساوي د ټولو لپاره پرمختک دی" ټینګار کوي چې د جنډر تساوي، د ښځو پیاوړتیا، د بشري حقونو څخه د ښځو پوره برخمن کیدل او د بیوزلۍ له منځه وړل څنګه د اقتصادي او ټولنیزې پرمختیا لپاره ضروري دي. دا همدارنګه د پرمختیا د عامل په توګه د ښځو په مهم نقش باندې ټینګار کوي.

د ملګرو ملتونو ادارې، چې په هیواد کې فعالیت کوي د ښځو د سهم او ونډې لمانځنه کوي، او اعترف کوي چې د ښځو حقونو ته ځواب ویل د ټولو حقونو ته ځواب ویل دي، په دې برسیره په دې ټینګار کوي چې په سیاسي بهیر، د سولې په پروسه او په ټولنیزو سیاسي فعالیتونو کې د ښځو برخه اخیستنه، د هیواد د ودې په یقیني کولو کې مهم لاملونه دي.

د ملګرو ملتونو د عمومي منشي ځانګړي استازي او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي( یوناما) مشر ښاغلي یان کوبیش په دوامداره توګه په ټولنه کې د ښځو مهم نقش ته، په خاص ډول د راتلونکو ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو د ټاکنو په درشل کې چې تمه کیږي د وري د میاشتې په ۱۶ نیټه به ترسره شي، اشاره کړې ده.

ښاغلي کوبیش وویل "په راتلونکو ټاکنو کې د ښځو د پام وړ ګډون د پروسې د اعتبار او عام شمولی لپاره ډیر اهمیت لري. ښځو ته همدارنګه د نوماندانو، کمپاین کوونکو او ټاکنیزو کارکونکو په حیث، په خاص ډول، د ټاکنو د ښځینه کتونکو په حیث د هغوي شتون کولائ شي د ښځو د رایو د خوندي کولو لپاره اړین وي."

د ښځو د حقونو څخه د سرغړونې دوامداره تمایلات موجود دي- د وژنکو بریدونو، د مطرحو ښځینه حکومتي او پولیسو چارواکو د هدفي وژنو او په ولایتي شوراګانو کې د ښځو لپاره په سهمیه کې کموالی ښایي چې د دې په خاطر چې د ښځو او نجونو حقونه تضمین شي، لا ډیر کار ته اړتیا شته.

ملګري ملتونه د افغانستان د حکومت د ملي او نړیوالو تعهداتو او ژمنو ملاتړ ته، په خاص ډول، د هیواد د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منع قانون، او همدارنګه د ښځو په وړاندې د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو کنوانسیون او د ماشوم د حقونو میثاق چې ښځې او نجونې اغیزمنې کوي، ژمن دي. دا د نړیوال ارګان لپاره مهم ګامونه دي څو د ژوندانه په ټولو برخو کې، د سولې او سیاسي پروسو په شمول د تصمیم نیولو په برخه کې د ګډون مساوي فرصتونو د رامنځته کیدو څخه ډاډ حاصل کړي.

د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام مشر الوارو رودریګویز وویل "د مساوي فرصتونو په ورکولو، افغان ښځې دا ظرفیت لري چې د خپلو کورنیو او ټولنو په ژوندانه کې د پام وړ مثبت بدلونونه را منځ ته کړي. د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام د خپلو شریکانو سره کار کوي څو دا یقیني کړي چې افغان ښځې کولای شي خپلې وړتیاوې ترلاسه کړي څو د ټولو لپاره د ښه ژوندانه او د یوه لا غښتلي افغانستان سره مرسته وکړي."

ملګري ملتونه همدارنګه پدې جدي اړتیا ټینګار کوي څو د جنډر پر اساس د تاوتریخوالي د حلقې د ماتولو او همدارنګه د هغو مسایلو لکه په ماشومتوب کې د ودونو په برخه کې د هیواد ځوانان د کلیدی فعالینو په توګه ښکیل کړي. د ملګرو ملتونو ادارې او د هغوي ملي شریکان په ګډه کار کوي څو پوهاوي ته وده ورکړي او ټولنیز مشران بسیج کړي، په خاص ډول، سړي، هلکان او ځوانان ښکیل کړي. د ملګرو ملتونو د وګړو د وجهي صندوق استازي ډاکټر انیتی ساش رابرتسن وویل "په افغانستان کې د جنډر پر اساس د تاوتریخوالي او نابرابری یو انځور هم د وخت نه وړاندې ودونه دي. د وخت نه وړاندې ودونه له یوې نجلۍ څخه د هغې ماشومتوب اخلي، د هغې ښوونه او روزنه اغیزمن کوي، د هغې فرصتونه محدودوي، د تاوتریخوالي او ناوړه ګټه اخیستنې په وړاندې هغه له زیات خطر سره مخامخوي او د هغې روغتیا ګواښي. کله چې ښځې وکولای شي د خپلې راتلونکې، کورنۍ او د تندرست ماشومانو خوندي زیږولو پلان جوړولو کې خپل حق وکاروي او خپله بشري وړتیا بشپړه کړي، نو په دې سره به د ټولنې هره برخه پرمختګ وکړي."

نوموړې همدارنګه له افغانانو څخه وغوښتل چې د نجونو ملاتړ وکړي څو هغوی له خپلو وړتیاوو څخه کار واخلي.

د ماینونو او له جګړې څخه د پاته شویو چاودیدونکو توکو په حواله، افغانستان د څو لسیزو اوږدې شخړې له امله د نړۍ په کچه په چاودیدونکو توکو یو ککړ هېواد دی، او د دې په پایله کې ښځې له دروند اقتصادي او رواني بار سره مخ شویدي. په داسې حال کې چې په افغانستان کې د ماینونو/له جګړې څخه د پاته شویو چاودیدونکو توکو یوازې ۵ سلنه قربانیان ښځې دي، ښځې د غیر مستقیمو قربانیانو په توګه، د میرمنو، میندو، خویندو، لورګانو او په پای کې د نارینه وو او د جګړې څخه د پاته شویو چاودیدونکو توکو په واسطه د معیوبو سړیو او هلکانو د پالونکو په حیث د غیر مستقیمو قربانیانو تر ټولو لویه ډله جوړوي. همدارنګه د ماینونو او جګړې څخه د پاته شویو چاودیدونکو توکو د پیښو د ژوندي پاتې شویو کسانو په حیث، ښځې د تجرید، تبعیض او تاوتریخوالي په وړاندې په نا متناسب ډول زیانمنېدونکې دي او نه شي کولای مالي ملاتړ ترلاسه کړي.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د ماین پاکۍ د خدمتونو د دفتر استازي ابیګایل هارتلي وویل "د ښځو نړیواله ورځ د وسله والې شخړې د اوږد مهاله اغیزې سره د مبارزې کولو په برخه کې د افغان ښځو لخوا د ناڅرګندې همکارۍ او مرستې د تصدیق کولو لپاره یو فرصت دی. څومره چې د ښځو غمجن حالت ته زیاته پاملرنه کیږي، موږ به وکولای شو ښې ستراتیژۍ ومومو څو ښځې وکولای شي د ژوندي پاتې شوي شخص او یا پالونکو په حیث په فعاله داسې ژوند وکړي چې پکې د هغوي اړتیاوې پوره شوي وي."

په افغانستان کې د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنرۍ سرپرست یومیکو تکاشیما د ښځو د نړیوالې ورځې په مناسبت په خپله وینا کې وویل "د ۵٫۸ میلیونو څخه د زیاتو کډوالو له جملې څخه چې هېواد ته ستانه شوي نیمایي برخه یې راستنیدونکې ښځې او نجونې تشکیلوي چې د هغه له جملې څخه ۴٫۷ میلیونه کډوال د خپلې خوښې راستنېدنې د پروګرام له لارې چې په ۲۰۰۲ کال د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنرۍ لخوا پیل شو هیواد ته ستانه شوي دي. په نړۍ کې، د افغانستان په شمول، ښځې او نجونې له ځانګړو ګواښونو سره مخ دي، ځکه نو په ۲۰۱۴ کال په

افغانستان کې د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنرۍ  لومړیتوب د جندر د تساوي رواجول دي څو د ساتنې او ملاتړ په اړه د ښځو د مساوي لاسرسي څخه ډاډ حاصل کړي."

نن، ملګري ملتونه له افغانانو سره یو ځای د جنډر د تساوي او د ښځو د پیاوړتیا په برخه کې د ترلاسه شویو پرمختګونو لمانځنه کوي.

---


**د لا زیاتو معلوماتو لپاره له لاندې کسانو سره اړیکه ټینګه کړئ:**

احمد شکیب دوست، shikib.dost@unwomen.org، ۰۷۰۲۵۵۸۰۹۱

نیلاب مبارز، mobarez@un.org، ۰۷۹۷۶۶۲۵۰۳